# په افغانستان کې د درملو منطقي کارونه او راتلونکی لیدلوری (ملي علمي - څېړنیز کنفرانس)

## د علمي او څېړنیزو مقالو غوښتنه

## د کنفرانس اهمیت

د دې کنفرانس ارزښت په دې کې نغښتی دی، چې د ډاکټرانو، درمل‌جوړوونکو، پالیسي جوړوونکو او نورو مسلکي کسانو ترمنځ د تجربو او علم تبادله یقیني کوي، چې دا د ملي ظرفیتونو د پیاوړتیا لپاره یو بنسټیز گام گڼل کېږي. دا ډول علمي فضا د روغتیایي نظام د بنسټیزو ستونزو د درک او حل لپاره زمینه برابروي او اړوندو برخو ته د همغږۍ، همکارۍ او نوښت فرصتونه وړاندې کوي.

## عمومي موخې

ددې ملي کنفرانس اصلي موخه دا ده چې د علم، پالیسۍ او عملي تجربو ترمنځ همغږي رامنځته شي او د روغتیایي سکتور اړوند ټول ښکېل اړخونه د گډ بحث، نظریاتي تبادلې او حل‌لارو موندلو لپاره سره راټول شي.

## اصلي محورونه

1- د افغانستان د درملو اوسنی وضعیت
2- په افغانستان کې تقلبي او غیر معیاري درمل
3- په افغانستان کې د درملو د عرضې د زنځیر مدیریت
4- په افغانستان کې د درملو په منطقي کارونه کې د روغتیایي کارکوونکو ونډه
5- په افغانستان کې د درملو په منطقي کارونه کې د عامه پوهاوي او ټولنیز گډون رول
6- نړۍ‌وال نظریات او د درملو د کارونې په مدیریت کې نوښتونه
7- په افغانستان کې د میکروب‌ضد درملو له مقاومت سره مبارزه
8- په افغانستان کې د فارمسۍ اخلاق او د ناروغانو خوندیتوب
9- په افغانستان کې د درملو د منطقي کارونې لپاره راتلونکی لیدلوری او د ستراتیژیک پلان جوړونه

### مهمې نېټې

- کنفرانس ته د مقالې د استولو وروستۍ نېټه: 1404 هـ.ش کال د سنبلې د میاشتې (7) نېټه.
- د کنفرانس د ترسره‌کېدو نېټه: سنبله، د 1404 لمریز کال

### امتیازات

1. په ملي او نړۍ‌والو ژورنالونو کې د مقالو خپرول
2. د مقالې لیکوالو ته د حق‌الزحمې ورکړه
3. له لوړو زده کړو وزارت څخه تصدیق‌پاڼې ورکول
4. د مقالې وړاندې‌کونکو لپاره د استوګنځي برابرول

### د مقالې سپارلو/وړاندې‌کولو لارې

◉ پرلیکه ◉ حضوری

conference@mili.edu.af
research@mili.edu.af

### پته/ د اړیکو معلومات

ملي د لوړو زده کړو موسسه، کابل- افغانستان
+93 (0) 781 12 60 60

# په افغانستان کې د درملو منطقي کارونه او راتلونکی لیدلوری (ملي علمي - څېړنیز کنفرانس)

## فرعي محورونه

1. په افغانستان کې د درملو د مصرف، نسخه‌لیکنې فعالیتونو او د عامه روغتیايي ننګونو مسایلو ته کتنه
2. په افغانستان کې د غیرمنطقي درملو د کارونې، په ځانګړې توګه د انټي‌بیوتیکونو د زیات استعمال او ځاني درملنې، د پراخوالي او اغېزو ارزونه
3. په افغانستان کې د تقلبي او غیر معیاري درملو کارونې د موخو او اغېزو ارزونه
4. د مؤثرې قانون‌پالنې، غوره مدیریت او عامه پوهاوي له لارې د غیرمعیاري درملو د خپرېدو د مخنیوي لپاره د ستراتیژیو ارزونه
5. د اړینو درملو د دوامداره تدارک د تضمین په برخه کې د شته ننګونو او حل‌لارو ارزونه
6. په محدودو منابعو لرونکو چاپېریالونو کې، د درملو د اخېستلو، ذخیره‌کولو او وېشلو لپاره د غوره کړنلارو څېړنه
7. په افغانستان کې د درملو د منطقي کارونې په برخه کې د ډاکټرانو، فارمسستانو او نورو روغتیايي کارکوونکو د تحصیل او روزنې د اهمیت ارزونه
8. د درملو د منطقي تجویز او وېش لپاره د لارښودونو او کلینیکي پروتوکولونو ارزونه
9. په افغانستان کې د غیرمنطقي درملو کارونې له خطرونو سره د مبارزې او تجویز شویو درملنو سره د خلکو د همغږۍ لپاره د عامه پوهاوي د ستراتیژیو ارزونه
10. په افغانستان کې د درملو د منطقي کارونې او ترویج په برخه کې د ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو او غیر دولتي بنسټونو د ونډې ارزونه
11. په افغانستان کې د درملو د منطقي کارونې د پیاوړتیا په موخه، د تطبیق وړ بریالیو ماډلونو او غوره کړنلارو ارزونه
12. په افغانستان کې له فارمسیوتیکي ټکنالوژیو، ټیلي‌میډیسن او ډیجیټل روغتیايي نوښتونو څخه، د درملو د منطقي کارونې په برخه کې ګټه‌اخېستنه
13. د غیرمنطقي درملو کارونې او د مېکروب‌ضد درملو د مقاومت ترمنځ د اړیکې ارزونه
14. په افغانستان کې د مقاومو انتاناتو د خپرېدو د مخنیوي لپاره د انټي‌بیوتیک د مؤثر نظارت له لارې د ملي ستراتیژیو ارزونه
15. په افغانستان کې د درملو د تجویز، وېش او بازارموندنې په برخو کې د اخلاقي معیارونو ارزونه
16. پر شواهدو ولاړه او د ناروغ پر اړتیاوو تمرکز لرونکې درملنه او د ناروغ د خوندیتوب د تضمین څرنګوالی
17. په افغانستان کې د فارمسي صنعت د راتلونکو تمایلاتو ارزونه، چې په کې انفرادي درملنه او په روغتیايي سکتور کې د مصنوعي ځیرکتیا کارونه شامل دي.
18. په افغانستان کې د درملو د منطقي کارونې د ترویج او د روغتیايي پالیسو د اصلاح لپاره د اوږدمهالو ستراتیژیو پر بنسټ د ټول‌شموله پلان جوړونې ارزونه
19. په افغانستان کې د کورنیو درملو د تولید ممکنه ظرفیت او د ځان‌بسیاینې ارزونه

ملاتړي